U.S. Citizenship and Immigration Services

# د افغان کاري ځواک يا کارګرانو ملاتړ لپاره لنډې لارښود.

**د متحده ایالاتو د کورنی امنیت وزارت (DHS) د ۲۰۲۳ زیږدیز کال د جون میاشتې په ۸ نېټه دوه پروسې اعلان کړې چې له مخې يې ځانګړي افغان وګړي کولي شي خپل پېرول (مشروطه لنډمهاله استوګنه) او د کار جواز د ۲ دوه کلونو لپاره وساتي:**

## ۱ پروسه:

ځانګړي افغان اتباع کولي شي چې د ۲ دوه کلونو لپاره د نوی پېرول (مشروطه لنډمهاله استوګنې)، یا د پېرول د غزېدو او د کار جواز لپاره د یوې نوې ساده او وړیا غوښتنلیک له لارې غوښتنه وکړي. دوی کولی شي چې له دې وېپاڼې څخه **uscis.gov/i-131** د I-۱۳۱ یا د سفر لپاره د سند غوښتنلیک فورمه تر لاسه کړي او له ډکولو وروسته خپل غوښتنلیکونه په آنلاین توګه، یا ورقي فورمې له لارې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی ادارې (USCIS) ته واستوي.

## ۲ پروسه:

هغه افغانان چې پېرول لري او لاندنۍ غوښتنلیکونه یې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی ادارې (USCIS) ته استولي دي او د (USCIS) فیصلې ته انتظار دي. د دوی د پېرول او د کارجواز د مودې غزول یا تمدیدول به د هرې قضیې په پام کې نیولو سره، پرته لدې چې د I-۱۳۱ فورمه ډکه کړي د ۲ دوه کلونو لپاره وغزول شي.

- د I-485 فورمه یا دایمي استوګنې راجستر یا حقوقي حالت د سمون غوښتنلیک (**uscis.gov/i-485**)
- د I-589 فورمه یا د پناهغوښتنې او له متحده ایالاتو څخه د ویستلو د مخنیوي غوښتنلیک (**uscis.gov/i-589**)

یادښت: کارګومارونکي اړ دي چې کارکونکو ته اجازه ورکړي تر څو د I-9 فورمې مطابق د منلو وړ اسناد او د لاندنۍ چوکات د لارښوونو له مخې د سندونو د تصدیق په لومړني او دوهم پړاو کښې د خپل خوښې سند وړاندې کړي. یو کارکونکی کولی شي د منل شوي سندونو له جملې څخه د خپلې خوښې سند وړاندې کړي.

## کارګومارونکو لپاره اړین معلومات

کچېرې د یوه افغان پېرول لرونکي د پېرول موده نه وي ختمه شوې او متحده ایالاتو ته د PAR او یا OAR په کټګوریو کښې منل شوی وي، دوی د خپل پېرول په اساس د کار کولو مستحق دي او کولی شي کار وکړي. د هغو کسانو چې په I-۹٤ یا د متحده ایالاتو ته د راتګ او تګ د سوابقو په فورمه کې د PAR کټګوري ذکر شوې وي، د هغوی د تابعیت هېواد باید افغانستان لیکل شوی وي. کله چې د یوه مستحق افغان وګړی پېرول، د پېرول نوې او ساده غوښتنلیک د پروسې له لارې اومنل شي یا د هغوی د لومړني پېرول موده وغزول شي، دوی کولی شي چې د خپل پېرول له منل کیدو سره سمدستي ژر ترژره کار پیل کړي یا خپل کار ته دوام ورکړي.

د لاندې چارت څخه په ګټه اخیستلو د I-9 یا د کار اجازې د تصدیق فورمې لپاره د منل شوي سندونو په اړه چې کیدای شي د افغان کارکونکو لخوا د هغوی د هویت او کاراجازې د تصدیق په مقصد وړاندې شي ځان پوه کړی.

## زما د کارکونکي بیا پېرول، د ساده او وړیا پروسې له لارې منل شوې (۱ پروسه)

د I-94 فورمه چې تاریخ یې نه وي ختم شوی د هویت او کار اجازې د تصدیق او I-9 فورمې لپاره، د ګومارنې له نېټې څخه د ۹۰ ورځو لپاره د منلو وړ ده ( او د بیا تصدیق په صورت کې د کار جواز سند د تاریخ تر ختمېدو مخکې د منلو وړ ده).

د ۹۰ ورځو له مودې څخه وروسته یا کله چې د I-94 فورمې نېټه ختمېږي، هر یو چې لومړی رسیږي، دغه پېرول لرونکي باید د کار جواز سند (EAD) چې تاریخ یې ختم شوی نه وي یا غیر محدود سوشیل سیکیوریټي کارت او د Bلیست د هویت د سندونو له جملې څخه یو سند لکه د دریورۍ لیسنس یا پېژندپانه سره یو ځای باید وړاندې کړي.

افغان پېرول لرونکی چې متحده ایالاتو ته د PAR او یا OAR په کټګوریو کښې منل شوی دي، اړتیا نلرې چې په متحده ایالاتو د کار لپاره د کار جواز سند ته انتظار اوباسي. په هغه I-94 فورمو کښې چې د PAR کټګوري ذکر شوې دی، په هغه فورمو کښې د تابعیت هېواد باید افغانستان لیکل شوی وي.

په یاد ولرۍ چې د C سي لیست غیر محدود سوشیل سیکیوریټي کارت کیدای شي هغو کسانو ته چې د دایمي استوګنې په اساس متحده ایالاتو ته نه وي منل شوي ورنکړل شي.

## زما د کارګر لومړنۍ پېرول غزول شوی (۲ پروسه)

هغه افغان پېرول لرونکي چې د کار جواز سند (EAD) کې د C11 کټګوري ذکر وي او لومړنۍ پېرول او د کار جواز یې غزول شوی یا تمدید شوي وي، د I-9 فورمې ډوکولو لپاره کولی شي چې د کارجواز(C11 EAD) ختم شوی سند او د I-797C فورمه یا رسمي کړنې خبرتیا سره یوځای د A لیست منل شوي اسنادو په حیث د خپل هویت او د کار اجازې د تصدیق د سند په توګه وړاندې کړي.

د I-797C فورمه یا رسمي کړنې خبرتیا د هغوی د ختم شوي کارجواز(C11 EAD) سند اعتبار غزوي کچېرې هغوی سره موجود وي. USCIS په اوتوماتیکه توګه هغوی ته بل EAD یا د کارجواز سند نه لېږي، ځکه چې دکار کولو اجازې ثبوت لپاره نوي EAD یا د کارجواز سند درلودلو ته اړتیا نشته

کچېرې ستاسو کارکونکي غواړي نوې EAD یا د کارجواز سند چې د هغوی د غزول شوي پېرول نېټې سره سمون ولري ترلاسه کړي، او یا هغوی غواړي چې د یوه بیل وضعیت لکه د پناهغوښتنې غوښتنلیک یا حقوقي حالت د سمون غوښتنلیک له مخې نوې EAD یا د کارجواز سند ولري، دوی کولی شي EAD یا د کارجواز سند ته چې د ختمېدو نوې نېټه ولري د I-765 فورمه یا د کارجواز غوښتنلیک په سپارلو دلته[uscis.gov/i-765](uscis.gov/i-765) ترلاسه کړي.

هغه افغانان چې د پېرول نېټه یې تمدید شوې ده کولی شي د I-94 نوې فورمه له دې ویبپاڼې [https://i94.cbp.dhs.gov](https://i94.cbp.dhs.gov) څخه ترلاسه کړي. د I-94 معتبره فورمه چې د PAR کټګوري پکښې ذکر شوې او د تابعیت هېواد افغانستان لیکل شوې او یا د OAR کټګوري پکښې لیکل شوی وي د I-9 د فورمې لپاره د هویت د او کارجواز سند د ثبوت په توګه د ګومارنې له نېټې څخه د ۹۰ ورځو لپاره د منلو وړ اسناد دي (او د بیا تصدیق په صورت کې د کارجواز سند د تاریخ تر ختمېدو مخکې د منلو وړ ده).

کچېرې ستاسو کارکونکي خپل EAD یا د کارجواز سند نه وي ترلاسه کړی یا ورڅخه ورک شوی وي، کولی شي بل سند لدې [uscis.gov/i-765](uscis.gov/i-765) ویبپاڼې څخه ترلاسه کړي.

## یادونه.

کچېرې ستاسو کارکونکي په وروستيو کې نوي ځای ته کډه کړې وي سره له دې چې د لنډمهال لپاره تللی وي، دوی اړتيا لري چې د خپلې پتې يا آدرس بدليدلو په هکله USCIS ته خبر ورکړي. دوی د خپل آنلاين USCIS حساب my.USCIS.gov له لارې، يا پدې ويبپانه uscis.gov/ar-11 کښې د پتې يا آدرس تبديلولو کارت يا AR-11 فورمې په ډوکولو سره خپل آدرس بدل او USCIS ته خبر ورکولی شي. هر ځل چې پېرول لرونکي خپل آدرس بدلوي، دوی بايد د پېرول له شرط سره سم USCIS ته خبر ورکړي. هيله ده په ياد وساتي چې په پوسته خانه يا بله حوکومتي اداره کښې د آدرس بدلول له USCIS سره ستاسو آدرس نه بدلوي.

## کومکي سرچينې

- ځانګړو افغانانو لپاره د کډوالۍ شته لارو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره افغانانو لپاره د USCIS لدې uscis.gov/allieswelcome ويبپاڼې څخه ليدنه وکړی. همدارنګه ځانګړو افغانانو ته د بيا پېرول پروسې او پدې اړه د عمومي پوښتنې او ځوابونو لپاره لدې uscis.gov/re-parole-process-for-certain-afghans ويبپاڼې څخه ليدنه وکړی.
- د هغو افغانانو په اړه چې د پېرول په اساس د کار مستحق ګڼل شوي د لازياتو معلوماتو لپاره لاندې ويبپاڼې څخه ليدنه وکړی .uscis.gov/afghan-parolees-employment-authorized
- د I-۹ فورمې لپاره د منلو وړ سندونه پدې uscis.gov/i-9-central/form-i-9-acceptable-documents ويبپاڼه کښې وګورئ.
  - کاروګومارونکي نشي کولای چې د يو کس د تابعيت، کډوالۍ وضعيت يا اصلي هيواد په اساس د منل شوي سندونو څخه پرته چې د هويت او کاراجازه تثبيتوي د نورو يا بيل ډول سندونو غوښتنه وکړي يا هغه سندونه ونه مني چې په معقوله توګه کارکونکي اړوند او د اعتبار وړ ښکاري او يا له کارکونکي څخه د مشخصو سندونو د وړاندې کولو غوښتنه وکړي. پدې اړه د عدليې وزارت د کارکونکو او کارګمارونکو په اړه پدې ويبپانه کې justice.gov/crt/immigrant-and-employee-rights-section اړين معلومات وړاندې کوي.
- د متحده ايالاتو د عدليې وزارت د کډوالو او کارګرانو د حقوقو څانګه (IER) کارګومارونکو لپاره د ګومارنې، له کار څخه شړولو او کارګرانو د جذب په وخت دقانون په اساس له کارکونکو څخه دکوم شي غوښتنه کولای يا نشي کولای، په اړه مرسته کوونکې سرچينې برابرې کړي، هيله ده justice.gov/crt/immigrant-and-employee-rights-section لدې ويبپاڼې څخه ليدنه وکړی
- د متحده ايالاتو د منصفانه ګومارنې د فرصتونو کميسيون، د يوشان ګومارنې حوکومتي قوانين تطبيقوي چې له کار غوښتونکو، کارکونکو او پخواني کارکونکو سره د توپيري چلند يا تبعيض څخه مخنيوی کوي. په کاري چاپېريال کې د تبعيض او توپيري چلند په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره لدې eeoc.gov/overview ويبپاڼې څخه ليدنه وکړی.